کتاب

۴ مخ

مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۲۲مه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۱۳مه | ٤٦٢مه ګڼه

# د امریکا او طالبانو پټه معامله؛

## د انس حقاني په ګډون دری مهم طالب مشران له بګرام زندانه آزاد شول



۳

د باور د فضا په رامنځته کولو کې د بندیانو د تبادلې ونډه

۲ مخ


افغانستان؛ د زبرځواکونو د سیالۍ ډګر

۲ مخ

د ویتنام جنګ


۳ مخ

## د پیسو جوړولو فابریکه




د پیسو ګټلو فابریکه (د رابرټ کیوساکي په سبک د پیسو ګټلو اسانه لارې چارې) د رابرټ کیوساکي د هغو غوره لیکنو ټولګه ده چې په عملي کولو سره یې تاسو کولای شی د خپل کارو بار څښتن شی او ښې پیسې وګټی.

## په ننګرهار کې د نږدې ۳۰ میلیاردو افغانیو په لګښت د پروژو کار پیل شوی



د ننګرهار والي وایي، په دغه ولایت کې د امنیتي ساحو له پراخېدو سره د بیارغوني لړۍ هم چټکه شوې، چې همدا اوس د نږدې ۳۰ میلیاردو افغانیو په لګښت، د ډېرو پروژو کارونه پیل شوي دي.

شاه محمود میاخېل زیاتوي: «دا د کانال له پروژې نه په ننګرهار کې دا لویه ابادي او د رغونې کارونه دي، چې روان دي. په دې کې د ۲۰۸ بابه مکتوبونو ودانۍ دي، د زر بستریز روغتون کارونه دي، د ولسوالیو کلینیکونو کې انتظار خونې او نورې ډېرې مهمې پروژې په کې شاملې دي».

د میاخېل په خبره، ځینې پروژې سږ کال پیل شوې او ځینې نورې لویې پروژې چې مخکې کلونه پیل شوې وې، خو کارونه یې نیمګړې پاتې وو، اوس یې کارونه بیا پیل شوي دي.

## په پکتیا کې د بهرنیو ځواکونو په هوایي برید کې اته ملکیان وژل شوي

د پکتیا په ځاځي اریوب ولسوالۍ کې د بهرنیو ځواکونو په هوایي برید کې د یوې کورنۍ اته غړي وژل شوي دي.

د پکتیا په مرکز ګردېز کې یوې حکومتي سرچینې رسنیو ته ویلي، چې ورمه شپه د ځاځي اریوب ولسوالۍ د علي سنګي په سیمه کې پر یوه کرولا موټر هوایي برید شوی دی.

هغه ویلي چې په دغه برید کې دری ماشومان، دری ښځې او دوه سړي وژل شوي دي.

دغه راز د یادې سیمې یوه قومي مشر حفیظ الله مبارز پژواک ته ویلي چې په دغه برید کې وژل شوي کسان ملکي وګړي دي. بل پلو د پکتیا له امنیې قوماندانۍ په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې دغه برید د وسله والو طالبانو پر موټر شوی او پکې سپاره پنځه کسان وژل شوي دي.

خو په پکتیا کې یوې بلې حکومتي سرچینې د نوم نه ښودلو په شرط پژواک ته ویلي، چې وژل شوي کسان د طالبانو د یو سیمه ییز قوماندان، شوتې له جنازې را روان وو چې برید پرې شوی دی.

هغه ویلي چې په وژل شوو کې د قوماندان شوتې ورور، خسر، خواښې، خوښینه، د خواښې خور او دری ماشومان شامل دي.

بل لور ته په کابل کې د امریکایي ځواکونو ویاند په دې اړه ویلي چې امریکایي ځواکونه د ملکي مرګ ژوبلې په اړه ټولې ادعاوې په جدي توګه څېړي.

هغه زیاته کړې چې امریکایي ځواکونه کله هم په قصدي ډول پر ملکي وګړو بریدونه نه کوي.

دا لومړی ځل نه دی چې د هوایي برید له امله ملکي وګړي په نښه کېږي، بلکې شاوخوا دوه اونۍ وړاندې هم په همدغه ولسوالۍ کې په یوه هوایی برید کې د یوې کورنۍ دری غړي وژل شوي وو.

## د ځینو ستونزو له کبله ښایي لومړۍ پایلې په ټاکلې نېټه اعلان نه شي



۲ مخ

## جینګ شانګ: چین در باره نشست میان افغانان با تمامی طرفها در تماس است



جینګ شانګ سخنګوی وزارت خارجه چین در یک نشست خبری ګفته است که حکومت این کشور با تمام طرف‌ها در رابطه با نشست میان افغانان در چین در تماس است.

او یک بار دیګر پشتیبانی این کشور را از روند صلح افغانستان به رهبری و مالکیت افغانان اعلام کرد و ګفت، بیجنګ از ګفتګوهای سازنده میان تمامی طرف‌ها به شمول حکومت افغانستان و طالبان پشتیبانی می کند.

او ګفت که بیجنګ به برګزاری ګفتګوها میان تمامی طرف‌های درګیر در موضوع افغانستان تمایل همکاری دارد و از همین رو با این طرف‌ها تماس‌هایش را برقرار کرده است.

آقای جینګ ګفته است: «چین می‌خواهد زمینه برای ګفتګو میان تمام طرف‌ها در مسایل افغانستان را فراهم کند و در پیشرفت روند صلح و مصالحه در افغانستان با احترام به خواست‌های تمام طرف‌های درګیر، همکاری کند».

این در حالی است که اسماعیل خان، رهبر پیشین جهادی، روز دوشنبه ګفت که حکومت افغانستان ترکیب هیئت شرکت کننده‌ګان نشست چین را نهایی نساخته‌است و هنوز هم رأی زنی‌ها دربارهٔ این ترکیب، ادامه دارند.

اما پیش از این حکومت افغانستان از نهایی شدن این هیئت خبر داده‌است و منابعی در حکومت حتا پذیرفته‌اند که ترکیب این هیئت به حکومت چین نیز، فرستاده شده‌است.

انتظار می‌رود در آینده نزدیک چین میزبان ګفتګوها میان افغانان به شمول نماینده‌ګان حکومت و طالبان باشد.

Shigal English Academy

شیګل انګلیش اکاډمي

ENGLISH ACADEMY SHIGAL 2019

Easy English learning

DEL

TOEFL iBT

shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### د باور د فضا په رامنځته کولو کې د بندیانو د تبادلې ونډه

څومره چې د جګړې د دوام بیه درنه ده، همدومره له جګړې د خلاصون لپاره د ستونزمنو پرېکړو اړتیا ده. د داسې جګړې د پای ته رسولو لپاره چې له څه کم نیمې پېړۍ راهیسې یې یو ملت د پرمختګ او سوکالۍ له ټولو فرصتونو بې برخې کړی، داسې اقداماتو ته اړتیا ده چې په عادي حالت کې یې شایي منل منطقي ونه ګڼل شي. افغان ولس د روښانه راتلونکې لپاره اړ دی چې د ماضي زولنې ماتې کړي او پر سوله ییز راتلونکي تمرکز وکړي. دې موخې ته د رسېدو لپاره به ځینې وختونه د داسې اقداماتو اړتیا پیدا کېږي، چې منل به یې د افغانانو لپاره د ملت په توګه ستونزمن وي، خو اوږدمهالې پایلې به یې داسې وي چې افغانان به د زهرو د دغه ګوټ څښلو ته مجبوروي.

افغان دولت د افغانستان د امریکایي پوهنتون د دوو استادانو د خلاصون په بدل کې د حقاني شبکې، چې د وسله والو طالبانو ترمنځ تر ټولو خطرناکه ډله بلل کېږي، د دریو غړو د خلاصون پرېکړه کړې ده. په دغو کسانو کې انس حقاني، چې د دې شبکې د بنسټګر جلال الدین حقاني زوی دی، عبدالرشید عمري او مالي خان شامل دي. سره له دې چې خلاصېدونکي کسان د داسې ډلې غړي دي چې په افغانستان کې په خورا سترو او خونړیو بریدونو کې پر ښکېلتیا تورنه ده، خو که د هغوی خلاصون د سولې د په ټپه دریدلي بهیر د بیا احیا سبب کېږي، د دغه ګام هرکلی باید وشي.

افغان دولت او وسله وال طالبان د جګړې د افغان لورو په توګه د سولې د خبرو د بریالیتوب لپاره د باور د فضا رامنځته کولو ته اړ دي او د بندیانو تبادله دې موخې ته په رسېدو کې مرسته کولای شي، البته که د بندیانو خلاصون ته د مقابل لوري د ضعف د ټکي په توګه ونه کتل شي. طالبان او دولت دواړه باید په تدریج هڅه وکړي چې د جګړې د حالت له ذهنیت څخه راووځي او د حسن نیت په ښودلو سره د باور فضا رامنځته کړي.

د حقاني شبکې د غړو په څېر د خطرناکو کسانو خلاصون له شک پرته آسانه پرېکړه نه ده او ښایي ډېر مخالفین ولري، خو افغان ولس دا درک کوي چې سولې ته رسېدل بیه غواړي او د دې بیې له پرې کولو د انکار په صورت کې د افغانستان لپاره یوازې یو انتخاب پاتې کېږي، چې هغه د جګړې دوام دی. افغانانو د جګړې درنه بیه پرې کړې او له دې عذاب څخه د خلاصون لپاره د هرې داسې بیې پرې کولو ته چمتو دي، چې د هېواد ځمکنۍ بشپړتیا، خپلواکي، ملي حاکمیت او د ښاروندۍ حقونه یې نه ګواښي.

# افغانستان؛

## د زبرځواکونو د سیالۍ ډګر

لیکنه: بي بي سي پښتو- وحید وطنیار

په نولسمه پېړۍ کې انګلیسانو او روسانو په افغانستان او مرکزي اسیا کې ستره لوبه پیل کړه. په ۱۸مه او ۱۹مه میلادي پېړۍ کې نړۍ له سیاسي، امنیتي او اقتصادي پلوه په بدلېدو وه. په نړیواله کچه د فرانسې واک او ځواک تر ډېره بریده راکم شوی و. اوس د فرانسې تر ټولو کلکو سیالانو، یانې انګلستان او روسیې نوي خوبونه لیدل.

کله چې په ۱۸۱۲ ز کال کې فرانسویان یو ځل بیا د جګړې په ډګر کې د روسانو په لاس له ماتې سره مخ شول، نو په اروپا کې د سیاسي هجوموني یا ځواک تله یو ځل بیا په بدلېدو شوه.

انګلستان د خپل استعمار منګولې په مختلفو ډولونو په ټولو لویو وچو یا براعظمونو کې غځولې وې. په سویلي اسیا کې هم د «ایسټ انډیا کمپنۍ» په نامه انګریزانو خپل فعالیتونه له ۱۶مې پېړۍ راپدېخوا پیل کړي وو.

له بلې خوا په ۱۸۱۲ ز کال کې په مسکو کې د ناپلیون له ماتولو وروسته، روسانو هم خپل نظر پر ګاونډیو هېوادونو وغوړځاوه.

د دغې لړۍ په دوام سره داسې یو حالت رامنځ ته شو، چې د وخت د امپراتورانو موخې او هدفونه سره په ټکرېدو شول. انګلیسانو اوس د فرانسې پر ځای روسان د ځان لپاره تر ټولو ستر ګواښ بلل، په ځانګړې توګه په اسیا کې.

د دوی استعماري موخو او سیالۍ یو شکمن چاپېریال رامنځته کړ، داسې چې د هر چا ملګری بل ته دښمن او دښمن یې ورته ملګری ښکارېده.

افغانستان د خپل تاریخ په څو پړاوونو کې د نړیوالو زبرځواکونو د سیالۍ ډګر پاتې شوی.

د روسانو او انګلیسانو ترمنځ په افغانستان او منځنۍ اسیا کې د برلاسي کېدلو او یا هم مخالف لوري ته د تاوان رسولو لړۍ پیل شوه، چې په تاریخ کې د «ګرېټ ګېم» یا سترې لوبې په نامه پېژندل کېږي.

د دې لوبې ګټې لوبغاړو ته یې ښې پرېمانه وې؛ خو تاوان یې بیا هغو هېوادونو ته و چې پر زړه یې دغه لوبې تر سره کېدلې.

**افغانستان؛ د لوبو ډګر!**

کله چې روسیې د ۱۹مې پېړۍ په پیل کې بهرنۍ پالیسي یوځل بیا له سره تعریف کړه، نو چارواکو یې خپل هېواد له نورو استعمار پلوو هېوادونو لکه انګلستان او فرانسې سره پرتله کاوه.

روسانو پر مرکزي اسیا برید او د دې سیمې خلک مدنیت ته وربلل خپله وجداني دنده بلله. په سیمه کې د روسانو د پرمختګ ډنډورې او بالاخره د افغانستان له لارې پر برېټانوي هند د دې پرمختګ اغېز هغه لاملونه وو، چې د انګلیسانو پام یې افغانستان ته واړولو.

انګلیسانو سملاسي په ۱۸۳۷ ز کال کې د یو لوړ پوړي استازي له لارې د افغانستان له امیر دوست محمد خان څخه د روسیې پر وړاندې د تړون غوښتنه وکړه.

خو د ځینو سیاسي جنجالونو له کبله دغه هلې ځلې بې پایلې پاتې شوې او د افغان- انګلیس لومړۍ جګړه په ۱۸۳۸ ز کال کې پیل شوه او په ۱۸۳۹ ز کال کې کابل د انګلیسانو تر واک لاندې راغی.

په ۱۸۴۲ ز کال افغانان بریالي شول چې د هغې زمانې نه ماتېدونکی او د نړۍ تر ټولو ستر زبرځواک له کابله وشړي او سخته ماتې او ستر زیان ورته ورسوي.

شاه شجاع د انګلیسانو په مرسته یو ځل بیا په کابل کې د واک پر ګدۍ کېناست. د افغانستان او انګلیس دویمې جګړې لامل او سناریو هم خورا یو بل ته ورته دي.

انګلیس له روسانو سره سیاسي شخړې لري، پر افغانستان شکمن شي چې له مسکو سره ښه اړیکې پالي، نو بیا کابل ته ګواښ وکړي.

خو امیر شېر علي خان ته دا هرڅه بې مفهومه ښکاري او د برېټانوي هند پرله پسې ګواښونو ته بې پروایي ښکاره کوي. بالاخره انګلیسان پر افغانستان د برید پرېکړه کوي. د دوی ترمنځ دویمې جګړې له ۱۸۷۸ تر ۱۸۸۰ ز کال پورې دوام وکړ.

کیسه همغه پخوانۍ د «ګرېټ ګېم» یا سترې لوبې وه. افغانستان یو وار بیا د انګلیس او روس د سیالیو ډګر وګرځېد.

د ګرېټ ګېم په لوبه کې چې ظاهراً د روسیې او انګلیسانو له لورې تر سره کېدله، سیاستونه او تګلارې د قدرت پر ساتنه او په پرمختیاوو ولاړ وو.

که کوم هېواد یا ډلې به جلا دریځ ښودلو، نو د استعمار تر منګولو لاندې راتلل او د بې دریځۍ په حال کې به یې غاړه یادو هېوادونو ته کېښوده.

**په افغانستان کې د ۲۱مې پېړۍ ستره لوبه**

د نړۍ زبرځواکونه اوس هم په افغانستان کې مخالفې موخې او سیاستونه لري.

اوس به راشو اوسني وضعیت ته او په افغانستان کې د روان ناورین د ریښو موندلو هڅه وکړو. په تېرو ۱۹ کلونو کې د نړیوالو سیاسي هڅې او مالي مرستې بې اغېزې او غیر منسجمې ښکاره کېږي. انسجام په دې نه لري چې د نړیوالو لوبغاړو ترمنځ همغږي نشته. لامل یې د دوی خپلمنځي شخړې او سیالي ګڼل کېږي. راځئ چې په اوسني افغانستان کې د دریو لویو نړیوالو ځواکونو ترمنځ نه همغږي او اختلافونو ته کتنه وکړو.

د بحث اسانۍ لپاره به دا ټول لوبغاړي پر نړیوال ځواک (امریکا، روسیې، چین) او بیا سیمه ییز ځواک (هندوستان، عربستان، پاکستان او ایران) ووېشو.

د نړۍ په هر سیالیز ډګر کې د نړیوالو ځواکونو (امریکا، روسیې، چین) موخې سره په ټکر کې دي. د روسیې او امریکا سیاسي سیالۍ او شخړې نږدې یوې پېړۍ ته رسیږي.

له چین او پاکستان سره د هندوستان سیالي هم د امریکا او روسیې له سیالۍ کمه نه ده

ایران په افغانستان کې د امریکا حضور نه غواړي؛ خو بیا دې ته هم لېواله نه دی چې د طالبانو په څېر سخت دریځي ډلې دې یو ځل بیا افغانستان کې واکمنې شي.

چین هم په افغانستان کې خپلې موخې لري، خو د نورو نړیوالو زبرځواکونو د سیاستونو پر وړاندې کوم غبرګون نه ښیي.

چین چې اوسمهال د افغان سولې بهیر د کوربه‌توب هڅې کوي، د خپلې اقتصادي پیاوړتیا په لټه کې دی. یو باثباته افغانستان د چین د اقتصادي پیاوړتیا سبب کېدلی شي.

خو چین هم په افغانستان کې د یوې سخت دریځې اسلامي ډلې د واک ملاتړی نه دی، ځکه دا به بیا په کور دننه ورته ستونزې جوړې کړي، یانې چینایي اسلامپاله ډلې به بیا ځواکمنې شي.

دا هغه اندېښنه ده چې روسان یې هم له چین سره شریکوي؛ په افغانستان کې یوې سخت دریځې ډلې ته واک سپارل کولی شي چې په مرکزي اسیا یانې تاجکستان، ازبکستان او همدا راز ترکمنستان او قزاقستان کې هم ورته ډلې پیاوړې کړي.

دا ډول وضعیت بیا د روسیې پر ثبات او امنیت باندې ناوړه اغېزه کولې شي. نو دغو پېچلو سیمه ییزو او نړیوالو اړیکو او سیاستونو ته په کتو، ځینې پوښتنې راپورته کېږي.

ایا دا نړیوال ځواکونه به له خپلمنځي شخړو او پر یو بل له شکه لاس واخلي؟ او د افغانستان د تلپاتې سولې د ټیکاو لپاره به په خپلو کې سره همغږي شي؟ دوی به ولې دا کار وکړي او په کومه بیه؟

د دوی خپلمنځي شک او شخړې یوازې په افغانستان کې په روان وضعیت پورې اړه نه لري. دوی د نړۍ په ډېرو برخو کې له یو بل سره په سیاسي، اقتصادي او پوځي سیالیو کې ښکېل دي. لنډه دا چې په لوی تصویر کې د دې نړیوالو ځواکونو خپلمنځي اړیکې، سیالۍ او سیاستونو د افغانستان پر وضعیت هم نېغ اغېز لري.

د افغانستان په اړه د هند او پاکستان سیاستونه هم سره په ټکر کې دي

اوس به راشو سیمه ییزو لوبغاړو یا هېوادونو ته او په افغانستان کې به د دوی خپلمنځي اړیکو او سیاستونو اغېز وګورو.

پاکستان په سیمه کې د چین ټینګ ملاتړی ګڼل کېږي، خو په افغانستان کې یې موخې له چین سره په ټکر کې دي.

پاکستان د طالبانو ملاتړ کوي او واک ته یې رسول غواړي، خو چین بیا د سخت دریځو ډلو د واکمنېدو مخالف دی.

خو چین د افغانستان په اړه د پاکستان په سیاست یا تګلاره کې هم مداخله نه کوي.

دا ځکه چې پاکستان ورته له سیاسي او اقتصادي پلوه تر افغانستان ارزښتمن دی.

بل ستر سیمه ییز ځواک هند دی، چې په رسمي ډول د کابل کلک ملاتړی او ملګری دی. د افغانستان په اړه د هند او پاکستان سیاستونه او تګلارې ښکاره توپیر لري.

د هند په سیاسي او اقتصادي پانګونه کې افغانستان اوس د پخوا پرتله د پاکستان لارې کمې کاروي، چې دا بیا پاکستان ته لوی اقتصادي زیان دی. د چابهار بندر یې یوه جوته بېلګه ده، چې ایران یې هم ملاتړ وکړ.

هند د پاکستان پر منزوي کولو بوخت دی. په روان وضعیت کې چین نه غواړي داسې یو ګام پورته کړي چې د سیمې یوازینی کلک سیاسي او اقتصادي ملګری(پاکستان) یې زیان ووینې.

پاکستان د طالبانو ملاتړ کوي او غواړي چې په افغانستان کې واکمن یا د واک برخه شي

د افغانستان روان سیاسي حالت داسې ترینګلی او پېچلی دی، چې له څو اړخونو له ګواښونو سره مخ دی. د شته سیاسي او امنیتي حالت له کبله هر نړیوال یا سیمه ییز ځواک د دې توان لري چې په افغانستان کې شخړې وغځوي.

که څه هم په ۱۹مه پېړۍ که اغېزمن بهرني ځواکونه یوازې دوه (انګلیس او روسیه) وو، خو کابل تل په دې کې پاتې راغلی چې له سیاسي فرصتونو څخه ګټه واخلي او په کور دننه د سیاسي ټیکاو او بشپړ امنیت خاوند شي.

افغانانو په ۲۰۰۱ ز کال کې د نړیوالو ځواکونو په راتګ سره دا فرصت درلود، خو یو ځل بیا یې له لاسه ورکړ.

## ټاکنو کمېسیون: د ځینو ستونزو له کبله ښایي لومړۍ پایلې په ټاکلې نېټه اعلان نه شي

د ځینو ټاکنیزو ټیمونو له مخالفتونو سره سره، د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي چې له ۲۰ په ډېرو ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرنې بهیر ته دوام ورکوي.

د دغه کمېسیون مشرې حوا علم نورستانۍ تېره ورځ په یوه خبري کنفرانس کې وویل، کمېسیون د خلکو اعتراضونه په نظر کې نیسي او یوازې بایومټریک شوې رایې ورته د منلو وړ دي.

خو د ځینو ټاکنیزو ټیمونو غړي وایي چې په نږدې ۲۰ ولایتونو کې یې د ټاکنو ولایتي دفترونه تړلي او دا اعتراضونه به ټولو ولایتونو ته وغځوي.

نورستانۍ ویلي، په ۱۴ نورو ولایتونو کې د ځینو ټیمونو د ملاتړو له لوري د کمېسیون ولایتي دفترونه تړل شوي دي او ښایي دغه څه د دې لامل شي چې د ټاکنو پایلې په خپله نېټه اعلان نه شي.

هغې ویلي: «موږ د یوشمېر انتخاباتي ټیمونو له لوري د ځینو ولایتي دفترونو د تړلو له امله اندېښنه لرو چې د عقرب په ۲۳مه به لومړنۍ پایلې اعلان نه شي».



نوموړې له ټاکنیزو ټیمونو غوښتي چې له کمېسیون سره د رایو د بیاشمېرنې په بهیر کې مرسته وکړي.

خو معترض نوماندان د رایو د بیاشمېرنې د پروسې د بندولو غوښتنه کوي.

د نوماندانو ملاتړي وایي، په همدې خاطر یې د افغانستان په ۲۱ ولایتونو کې د کمېسیون ولایتي دفترونه تړلي دي.

د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټیم غړي فهیم فطرت ازادي راډیو ته ویلي، شاید د دوی دغه اقدام د افغانستان ټولو ۳۴ ولایتونو ته وغځېږي.

په ورته وخت کې د یاد ټیم ویاند فریدون خوځون ویلي چې د ټاکنو د ولایتي دفترونو تړل کېدل د دوی په دستور نه دي شوي او کمېسیون باید د غیر قانوني کړنو په کولو سره ځان له خلکو سره مخامخ نه کړي.

# د ویتنام جنګ

لیکنه: صفیه حلیم

د ویتنام یا «امریکایي جنګ» له ۱۹۵۹ تر ۱۹۷۵ ز کلونو روان و. په دې کې یوې خوا ته د شمالي ویتنام جنګیالي وو چې ملاتړ یې چین او روس کاوه او بلې خوا ته د جنوبي ویتنام پوځ و چې امریکا ورسره ولاړه وه. په دغه جنګ کې شاوخوا درې میلیونه انسانان ووژل شول.

په ۱۸مه پېړۍ کې برېټانیا، فرانسې، هالنډ، بلجیم، جاپان، روس او چین د نورو ملکونو د نیولو لپاره سیالي کوله. فرانسه په ۱۸۵۹ ز کال کې د ویتنام خاورې ته داخله شوه او په لږ وخت کې یې د دغه هېواد لوی ښار «سایګون»، بیا جنوب او مرکزي سیمه «انام» ونیول. چین له دوی سره مقابلې ته ور ودانګل، خو په ۱۸۸۴ ز کال کې فرانسې ماتې ورکړه او د «ټونکین» شمالي سیمه یې هم ترې ونیوله. په ۱۸۸۷ ز کال کې انام، ټونکین او د چین کوچین سیمې د فرانسې مستعمرې وې. په ۱۸۹۳ ز کال کې فرانسې له ټایلینډ سره تر جنګ وروسته کمبوډیا او لاوس هم ونیول. په ۱۹۳۷ ز کال کې د چین او جاپان جنګ پیل شو. د چین جنوبي پوله له ویتنام سره شریکه وه او له هغې لارې به چین ته وسلې او نور اکمالات ورتلل. په ۱۹۴۰ ز کال کې جاپان له فرانسې غوښتنه وکړه چې د دوی پوځ ته د هغه سرحد د کنټرول اجازه ورکړي. دا غوښتنه رد شوه، خو په دویم نړیوال جنګ کې جرمني پر فرانسه حمله وکړه او هغه وو چې په یو تړون کې فرانسې د ویتنام په شمالي بندرګاه کې د جاپان شپږ زره پوځ ساتلو ته غاړه کېښوده. جاپان تړون مات کړ او پوځ یې ویتنام ته ورننوت.

بلخوا چین د ویتنام له هغو ډلو سره مرسته شروع کړه چې له فرانسې یې خپلواکي غوښتله. جاپان په ۱۹۴۵ ز کال کې له ویتنام څخه ووت او د شمال یو مشر «هوچیمین» د خپلواکۍ لپاره له امریکا مرسته وغوښته. هوچیمین د اشتراکي (کمونېزم) مفکوره لرله چې د روس او چین د اغېز نښه وه. امریکا په جنوب- ختیځه اسیا کې د دغو دوو ملکونو اغېز نه غوښت. د فرانسویانو پر ضد جنګ کې د هوچیمین بریالیتوب امریکا نوره هم اندېښمنه کړه او په ویتنام کې یې د فرانسویانو پوځي مرسته پیل کړه. په ۱۹۵۴ ز کال کې هوچیمین په یو لوی جنګ کې فرانسوي پوځ ته ماتې ورکړه، بل کال په جینوا کې په یوه غونډه کې په ویتنام کې د ټاکنو فیصله وشوه. د ۱۹۵٦ ز کال په دغو ټاکنو کې امریکا پلوی «انګوډن ډیام» بریالی شو او فرانسې د ویتنام د خپلواکۍ اعلان وکړ. په شمالي ویتنام کې د هوچیمین او په جنوبي ویتنام کې د انګوډن ډیام په مشرۍ حکومت جوړ شو. د ۱۹۵۹ ز کال په مارچ کې هوچیمین د خپل ملک د یو ځای کولو لپاره جنګ اعلان کړ. د ده ګوند «د ملي خپلواکۍ جبهه» او جنګیالي یې «ویتمین» نومېدل، چې وروسته «ویت کانګ» بلل کېدل. د امریکا صدرکینیډي د کمونېزم زور ماتولو لپاره جنوبي ویتنام ته مرسته نوره هم زیاته کړه. هغه د سرکاري پوځ د روزلو او هلته د وسلو استولو پلان منظور کړ. د ۱۹٦۱ ز کال په ډسمبر کې د امریکا پوځي مشاورین جنوبي ویتنام ته ورغلل او کال وروسته د دوی یوه بېړۍ په «ټونکین خلیج» کې د جاسوسۍ لپاره ځای پر ځای شوه.

په ۱۹٦۴ ز کال کې پر دغه بېړۍ د ویتنام لخوا په تورپیډو کې حمله وشوه. امریکا د تورپیډو د رنګولو خبر ورکړ، خو درې ورځې وروسته یې اعلان وکړ چې یو بله حمله کوونکې تورپیډو دوی په سمندر کې له منځه وړې ده. سمدلاسه کانګرېس په یو پرېکړه لیک کې صدر جانسن ته اختیار ورکړ چې د جنګ له اعلان پرته په سیمه کې پوځي عملیات کولی شي.

د ۱۹٦۵ ز کال د مارچ په دویمه امریکایي الوتکو پر شمالي ویتنام بمبارۍ پیل کړې. د دوی هدف به هوایي اډې، حکومتي ودانۍ او کارخونې وې. په همدې ورځ امریکایي پوځ هم ویتنام ته ننوت، چې مشر یې "«جنرال ویلیم ویسټمورلینډ» و. دغه پوځ ویتکانګ ته په دوو سیمو کې ماتې ورکړه. ویت کانګ له دې وروسته په چریکي (ګوریلایي) جنګ لاس پورې کړ. دوی د جنوبي ویتنام په ځنګلونو کې د پټو ځایونو لړۍ جوړه کړې وه، چې هوچیمین ټریل نومېده. په یو ځای به یې لومه (کوکۍ) ایښې وه او چې پوځیانو به وربانديې پښه کېښوده، نو هملته به بند شول. بیا نږدې پټ ویتکانګ به پر هغوی لاسي بمونه وغورځول. امریکایانو پر دغو پټنځایونو بمبارۍ وکړې، خو له منځه یې نه شوای وړی.

له شمالي ویتنام سره چین او نورو اشتراکي ملکونو مرسته کوله، چې د «لاوس» له لارې به ورتلل. امریکایانو په لاوس کې درې میلیون ټنه بمونه وغورځول، چې د سپلای سیسټم به پرې وځنډېدو، خو بند نه شو. په ۱۹٦۸ ز کال کې د جنوبي ویتنام په مرکز «هنوی» کې لوی عملیات پلان شول او ٦۰ ورځې یې په ځنګلونو کې د بې رحمه بمباریو په نتیجه کې په زرګونو ویتکانګ ووژل. د سایګون او هویی له ښارونو خلک په تېښته شول.

د امریکا په بمباریو او د بې ګناه خلکو په وژنه د امریکا خلک ناارامه شول او د جنګ خلاف په مظاهرو را ووتل. دوی پر خپل حکومت باور له لاسه ورکړو او د ۱۹٦۹ ز کال په ټاکنو کې رچرډ نکسن ګټونکی شو. د هغه پالیسي دا وه چې د جنوبي ویتنام سرکاري پوځ دې پخپله دا جنګ وکړي. په ۱۹٦۹ ز کال کې د شمالي ویتنام مشر هوچیمین مړ شو، خو ویتکانګ خپله مبارزه جاري وساتله.

په ۱۹۷۰ ز کال کې امریکا پر کمبوډیا حمله وکړه، خو په ۱۹۷۱ ز کال کې د پېنټاګون له ځینو اسنادو (بهر وتل) سره د ویتنام جګړې اصل مخ خلکو ته څرګند شو. تر ۱۹۷۳ ز کال پورې په ویتنام کې د امریکا په پنځه لکه پوځ کې ۲۰ سلنه یې پر اپیمو روږدي وو. د ۱۹۷۴ ز کال د جنورۍ په ۲۷مه په پاریس کې د جنګ د ختمولو لپاره یوه لوظنامه وشوه. د جنوبي ویتنام پوځیانو جنګ جاري وساتلو او د بري لپاره به یې له امریکایي پوځ مرسته غوښتله. د دغه کال تر مارچ میاشتې پورې د امریکا ټول جنګي پوځ ووت او د لږ وخت لپاره ارامي شوه. خو د کال تر پایه ویتکانګ بیا جنګ شروع کړ. د ۱۹۷۵ ز کال د اپرېل په ۳۰مه د جنوبي ویتنام پوځ ویتکانګ ته تسلیم او د ملک د یو کولو کار پیل شو. دا د «سوشلېسټ ریپبلک آف ویتنام» اعلان وشو او سایګون «هوچیمین» ښار ونومول شو. د جنوبي ویتنام امریکا پلوی مشر «انګو ډین ډایم» ته یې د ۱۹٦۳ ز کال په نومبر کې د مرګ سزا ورکړه.

په دغه جنګ کې د امریکا له ۵۸ زرو زیات پوځیان مړه، یو نیم لک یې زخمیان او ۲۰۰۰ شاوخوا ورک شول. د جنوبي ویتنام دوه لکه او ۳۰ زره پوځ ووژل شو. له ۱۱ لکو زیات یې زخمیان شول. تر ټولو زیات تاوان د شمالي ویتنام (ویتکانګ) ته واوښت. د دوی ۱۱ لکه او ۷٦ زره وګړي مړه او ورک شول. شاوخوا شپږ لکه خلک یې ټپیان وو. د چین ۱۴۴٦ پوځیان مړه او ۴۲۰۰ زخمیان وو. پر دې سربېره، د روس، جنوبي کوریا، لاوس، استرالیا او د ټایلینډ پوځي او غیر پوځي کسان هم پکې مړه او زخمیان شول. پر پوځ سربېره، د جنوبي ویتنام ۱٦ لکه، د کمبوډیا ۸۱ زره، د شمالي ویتنام اووه لکه او د لاوس ۵۰ زره عام ولس ووژل شو.

دا جنګ د کمونېزم او کپیټلېزم مفکورو ټکر و، چې یوه خوا چین، روس او نور کمونېسټ ملکونه وو او بلې خوا ته امریکا او د دوی پلویان استرالیا، نیوزیلینډ او ټایلینډ وو. له فلیپین، ټایلینډ او لاوس څخه عام خلک د ویتکانګ په ملاتړ د جنګ لپاره ورتلل. دا لومړی جنګ و چې راپورونه به یې په ټلوېزیون کې خپرېدل او هغه وخت د (د پردیو جنګ) نوم ورته وکارول شو. په ویتنام کې له ماتې خوړلو وروسته، امریکا خپله جنګي پالیسي بدله کړه او په افغانستان کې د کمونېزم د ماتولو لپاره یې د پاکستان له پوځ او آی ایس آی څخه کار واخیست.

# د امریکا او طالبانو پټه معامله؛

## د انس حقاني په ګډون درې مهم طالب مشران له بګرام زندانه آزاد شول



د طالبانو او امریکا ترمنځ د یوې پټې معاملې او هوکړې له مخې، پرون د دغه ډلې درې مهم زندانیان د افغان حکومت له زندانه خوشي او دوحې ته ولېږل شول. د راپورونو له مخې، د دریو مهمو طالب زندانیانو د خوشي کولو هوکړه څو ورځې وړاندې د زلمي خلیلزاد او طالب لوري تر منځ د قطر په پلازمېنه دوحه کې لاسلیک شوې وه. طالبان د دغو دریو زندانیانو په بدل کې لس افغان سرتېري او د امریکایي پوهنتون دوه بهرني استادان خوشي کوي.

سره له دې چې افغان حکومت په ځلونو له زندانه د انس حقاني خوشي کول د ځان لپاره سره کرښه بللې وه، خو بالاخره دغه کس د امریکا او طالبانو د یوې پټې معاملې په لړ کې له زندانه ازاد شو. ولسمشر غني تېره ورځ پر همدې مسئله خبري کنفرانس درلود، خو سرچینې وایي چې دغه کسان د امریکا او طالبانو د هوکړې په پایله کې ازاد شوي دي او ولسمشر غني یوازې غوښتل دغه خبر له ولس سره شریک کړي.

ورمه ورځ یوې باوري سرچینې مسیر ورځپاڼې ته وویل چې انس حقاني، د سراج الدین حقاني ماما، مالي خان ځدران او د طالبانو د قطر دفتر د غړي محمد نبي عمري ورور قاري عبدالرشید عمري د امریکایي پوهنتون له استادانو سره تبادله کېږي. خو د افغان حکومت ویاندویانو دا خبر رد کړ، تر دې چې پرون ولسمشر غني په رسمي توګه په یوه خبري غونډه کې دغه تبادله تایید کړه. سرچینې دا هم ویلي وو چې د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د دې تبادلې توافقنامه څو ورځې مخکې له طالبانو سره په دوحه کې لاسلیک کړې وه. طالبان په تبادله کې د امریکایي پوهنتون د استادانو تر څنګ، لس افغان سرتېري هم خوشي کوي.

خو ولسمشر غني پرون وویل چې دغه کسان په مشروط ډول له زندانه ازادېږي او افغان حکومت غواړي په دې توګه د سولې لپاره خپل ښه نیت ثابت کړي. د غني په خبره، د دغو دوو بهرنیو استادانو خوشي کېدل له طالبانو سره په نامستقیمو خبرو کې د افغان حکومت د اساسي غوښتنو یوه برخه وه.

افغان ولسمشر محمد اشرف غني پرون په کابل کې یوې خبري غونډې ته له بګرام زندانه په مشروط ډول د طالبانو د دریو غړو حاجي مالي خان، عبدالرشید او انس حقاني د خوشي کولو اعلان وکړ. ولسمشر غني وویل: ((د افغانستان له نړیوالو شریکانو، په تېره له امریکا سره له نږدې او هر اړخیزې مشورې وروسته، له طالبانو سره مخامخ خبرو ته د زمینې برابرولو لپاره په مشروط ډول د طالبانو د دریو کسانو د خوشي کولو پرېکړه وشوه)). اشرف غني وویل، په بګرام زندان کې د افغان دولت تر څارنې لاندې دغه خوشي کېدونکي طالبان حاجي مالي خان د والي خان زوی، عبدالرشید د محمد عمر زوی او انس د جلال الدین حقاني زوی دی.

بلخوا سرچینې وایي چې دغه بندیان په یوه ځانګړې الوتکې کې د قطر پلازمېنې دوحې ته لېږدول شوي دي او دریو واړو ته د افغانستان لس کلن پاسپورټونه هم ورکړل شوي دي. سرچینې کاږي چې د دې مسئلې اصلي بحث او معامله د امریکا او طالبانو ترمنځ شوې ده او افغان ولسمشر یې په ارګ کې یوازې د خوشي کولو اعلان وکړ. هېره دې نه وي چې تر دې وړاندې افغان حکومت په ځلونو د انس حقاني د خوشي کولو هر ډول وړاندیز او پرېکړه رد کړې وه او په خبره یې، د دغو بندیانو خوشي کول د دوی لپاره سره کرښه ده، خو اوس یې د خپلو ټولو هوکړو او ژمنو پر خلاف دغه مهم طالب زندانیان ازاد کړي دي.

په کابل کې د امریکا سفارت هم ویلي چې د زندانیانو له ازادولو ملاتړ کوي. سفیر جان باس تېره ورځ د یادو دریو مهمو طالب زندانیانو د خوشي کېدو په غبرګون کې ویلي، چې د ولسمشر غني دغه زړور ګام ستایي. د نوموړي په خبره، دا د سولې لپاره یو مهم ګام دی چې د افغان حکومت او افغان امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا په مانا دی. جان بس وایي، هیله لري چې په دې سره له طالبانو سره د افغان پوځ شته زندانیان او بهرني استادان ازاد کړل شي او د سولې راتګ ته لاره هواره شي.

## د اټومي انرژۍ د څار سازمان:

# د ایران په یوه نااعلان شوي سایټ کې یورانیم موندل شوي دي

د اټومي انرژۍ د څار نړیوال سازمان په خپل درې میاشتني راپور کې ویلي، د ایران په یوه نااعلان شوي سایټ کې یې د یورانیمو بېلګې موندلې دي.

دغه سازمان په خپل یوه راپور کې دغه څرګندونې کړې، خو د یاد سایټ په تړاو یې ډېر معلومات نه دي ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې اسرایلو ایران تورن کړی و چې اټومي فعالیتونه یې په یوه نااعلان شوي سایټ کې چې د تهران په څنډو کې په تورقوز اباد سیمه کې دی، پیل کړي دي.

د اټومي انرژۍ د څار نړیوال سازمان په راپور کې دغه راز راغلي چې د ایران د ټیټې سطحې غني شویو یورانیمو زېرمې لاهم د ۲۰۱۵ ز کال اټومي تړون پر خلاف د پرمختګ په حال کې دي.

دغه سازمان تایید کړې چې ایران اوس هم په فوردو اټومي بټۍ کې د یورانیمو د بډاینې چارې پر مخ وړي چې دا کار هم د نړۍ له شپږو قدرتونو سره د اټومي تړون پر خلاف بلل شوی.

بلخوا د بهرنیو چارو او امنیتي پالیسۍ په برخه کې د اروپایي ټولنې لوړپوړې استازې فېدریکا موګرېني د دوشنبې په ورځ په بروکسل کې د دې ټولنې د بهرنیو چارو وزیرانو تر ناستې وروسته، یوې خبري غونډې ته وویل چې د ایران دا ډول فعالیتونه د اندېښنې وړ دي.

هغې زیاته کړې: «د ایران له لوري وروستی اعلان چې په فوردو بټۍ کې یې د یورانیمو د بډاینې د بیا پیلېدو په اړه کړی، زموږ یوه لویه اندېښنه ده».

د اروپایي ټولنې د بهرنۍ پالیسۍ مشرې او د برېټانیا، فرانسې او جرمني د بهرنیو چارو وزیرانو ویلي چې دوی د ایران له لوري په فوردو اټومي بټۍ کې د یورانیمو د بډاینې د پرېکړې له کبله سخت اندېښمن دي. دوی په یوې ګډه اعلامیه کې له ایرانه غوښتي چې له ځنډ پرته خپلې ژمنې په بشپړ ډول پر ځای کړي. دا په داسې حال کې ده چې د اټومي انرژۍ د څار په نړیوال سازمان کې د ایران استازي کاظم غریب ابادي د دوشنبې په ورځ اعلان وکړ چې د ایران د غني شویو یورانیمو کچه تېره اونۍ ۳۷۲،۳ کیلوګرامو ته ورسېده.

د یادونې ده چې وروسته له هغې چې واشنګټن په ۲۰۱۸ ز کال کې د ایران له اټومي تړونه ووت او پر ایران یې نوي اقتصادي بندیزونه ولګول، تهران په تدریج په یاد اټومي تړون کې له خپلو ژمنو په شا شوی دی.

ایراني چارواکي شکایت کوي چې د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون پاتې برخه وال، د امریکا متحده ایالتونو د بندیزونو د اغېز په راکمولو کې پاتې راغلي دي. د دوی په خبره، ټول هغه اقدامات چې ایران له یاد تړونه د ژمنو د ماتولو په برخه کې کړي دي، د بیا راګرځېدو وړ دي.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه


## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق
◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

**دوهمه برخه**

**پاکستان**

## اووم څپرکی
## بد نصیب بلوچستان




د پاکستان حکومت د کوټې پر ښار د امریکایي هوایي بریدونو او جاسوسانو د ورتګ مخنیوی کاوه. که څه هم د بلوچستان په ځینو قبایلي کلیو کې د امریکا د CIA بې پیلوټه الوتکو بریدونه وکړل، بیا هم بلوچستان د طالبانو لپاره تر ټولو خوندي ځای و. په ۲۰۱۰ او ۲۰۱۱ز کلونو کې ملا عبدالقیوم ذاکر په کوټه کې د طالبانو تر ټولو لویې ډلې چمتو کړې وې، خو د ۲۰۱۲ز کال په پای کې د هغه پر ځای ملا اخترمحمد منصور وګمارل شو. د هغوی پر پټنځایونو هېڅ کله ناټو یا پاکستاني ځواکونو مستقیم برید ونکړ. دا سیمه تر هغې وروسته چې د ۲۰۱۱ز کال په مې میاشت، په ایبټ اباد کې، اسامه بن لادن ووژل شو، بیا هم خوندي پاتې شوه.

### وېشل شوي دېوبندیان

د پاکستان حکومت د افغان طالبانو له ملاتړ سره د جمعیت علماء اسلام ګوند مشران چې تر ټولو لویه دېوبندي ډله وه، هېر کړل. دې مشـرانو د طالبانو پر وړاندې ځان ځنګ ته شوی احساس کړ. مولانا حسن جان، د جمعیت علماء اسلام ګوند یو مشـر و، کله چې یې د ځانمرګو بریدونو په مخالفت غږ پورته کړ، په ۲۰۰۷ز کال، په پېښور کې ووژل شو. د مولانا فضل الرحمن پر کور هم برید وشو. ډېر هغه دېوبندي علماء چې له جمعیت ګوند سره نه وو تړلي، هم ترور شول، پر ځای یې نور راډیکال مشـران را پورته شول. د طالبانو په منځ کې دا درځ، سبب شو چې جمعیت علماء اسلام ګوند په بلوچستان کې پر دوو برخو ووېشل شي.

لویې رېږې او جګې تنې لرونکی، مولانا محمدخان شېراني له کلونو په بلوچستان کې د جمعیت علماء اسلام ګوند مشـر و. هغه له نورو مشـرانو توپیر لاره، نوموړي په ډاګه د طالبانو مخالفت کاوه، دی د هغو دېوبندي علماوو له ډلې و چې هېڅکله یې د طالبانو جګړې ته د جهاد په سترګه نه کتل، ځکه نو د طالبانو له لوري ووژل شو. په تېره لسیزه کې درې ځله بریدونه پرې وشول، یو ځل ان پرې په ۲۰۰۹ز کال ځانمرګی برید وشو چې اته تنه پکې ووژل شول. شېراني په ډاګه ویل چې د پاکستان پوځ د طالبانو ملاتړ کوي.

شېراني زیاتوي چې د ۲۰۱۰ز کال په پای کې یې له نظامي زورواکي، جنرال پروېز مشـرف پوښتلي وو: ((تاسو ولې افغانستان ته د جګړې لپاره یاغیان لېږئ؟)) هغه ځواب کې ورته ویلي وو: ((موږ هېڅوک هم افغانستان ته نه لېږو.)) مولانا بیا پوښتنه کوي: ((راځه چې د چمن پولې ته دې بوځم، درته وښیم چې څوک لېږئ که نه؟)) مشـرف بیا ځواب ورکوي: ((مولانا صیب! موږ هېڅ داسې سند نه دی لاسلیک کړی.)) مولانا ورته وایي: ((تاسو دا هرڅه په پټه کوئ، هېڅوک د دې ډول کړنو سند نه لاسلیکوي.))

د جمعیت علماء اسلام یوې ډلې چې خپله لاره یې جلا کړې وه، د نظریاتي په نوم یادېده، دې ډلې په ټینګه او ښکاره توګه د افغان طالبانو ملاتړ کاوه او په سوات او نورو قبایلي سیمو کې یې د پوځ د عملیاتو مخالفت کاوه. د دې ډلې مشـر، مولوي عصمت الله د ۲۰۰۸ز کال په فبرورې کې له مولانا محمدخان شېراني څخه پارلماني ټاکنې وګټلې. مولوي عصمت الله د ۲۰۱۰ز کال په ډسمبر کې د جمعیت له بدنې د خپلې ډلې د جلا کېدو دلیل داسې ویلی و: ((له مولانا محمدخان شېراني سره زموږ ځینې توپیرونه دي، اول- هغه په افغانستان کې جګړې ته جهاد نه وایي. دوهم- په جمعیت ګوند کې د لوی فساد موجودیت دی. درېیم- هغوی د مشـرف ملاتړ کوي، موږ دا کار نه کوو.))


بل لور مولوي عصمت الله په پاکستان کې د وسله والو جګړو مخالفت هم کاوه. هغه ویلي وو: (( موږ د وسلې او جګړې له لارې په پاکستان کې د اسلام پلي کېدل نه منو، ځکه موږ پارلماني نظام لرو. دلته ټولو اسلامي ګوندونو په ټاکنو کې ګډون کړی دی. د افغانستان سیاسي سېستم له پاکستان څخه ډېر متفاوت دی. د پاکستاني طالبانو لومړی تېروتنه دا ده، هغه څه چې باید په افغانستان کې یې وکړي، هغه په پاکستان کې کوي.))

مولوي عصمت الله چې د افغان طالبانو له مشـرانو سره یې ښې اړیکې لرلې، ویل چې افغان طالبان د پاکستاني طالبانو د جګړې مخالف دي، ځکه هغوی د پاکستان ملاتړ او خوندي ځایونو ته اړتیا لري. نوموړي ویلي وو: ((هغوی په پاکستان کې د تاوتریخوالي په خاطر بد نوم لري. ما اورېدلي چې ملا محمدعمر په پاکستان کې د پوځ پر ضد د جګړې مخالف دی. موږ د احساساتي مذهبي وګړو مشـري پر غاړه لرو، خو موږ هغوی ته د پاکستان په خاوره کې د وسله والې جګړې اجازه نه ورکوو. ځکه دلته جګړه د لا ورانۍ په مانا ده.))

شېراني زیاته کړه چې اسلاماباد د بلوچستان پر پښتنو کې د یوه سخت دریځه جهادي غورځنګ جوړولو هڅه کوي. دا غورځنګ د دې لپاره جوړېږي چې پر مټ یې بلوڅ بېلتون پال وځپي. هغه ویل: ((په دې کار سره بلوڅ پر پښتون او ملت پالنه پر شریعت وهي.)) د پښتونخوا ملي عوامي ګوند مشـر، عبدالرحیم مندوخېل په دې اند و چې پښتنو سېکولر او مذهبي مشـرانو د اسلاماباد د تشدد پلانونه شنډ کړي وو. هغه څرګندوي: ((ومو لیدل چې په موږ څه لوبې وشوې، څنګه دلته جګړه پراخه شوه. زموږ خلک افغانستان، خیبر پښتونخوا او فاټا ویني، ځکه یې له جګړې د عبرت سبق اخیستی دی.)) **دوام لري...**

# د پیسو جوړولو فابریکه

◀ اکسوس کتابپلور




د پیسو جوړولو فابریکه د مشهور لیکوال رابرټ کیوساکي د پیسو ګټلو په اړه د مهمو مقالو ټولګه ده، چې نوې پښتو ژبې ته را ژباړل شوې ده. مخکې له دې چې د کتاب په اړه خبرې وکړو، راځئ لومړی د کتاب لیکوال وپېژنو. رابرټ کیوساکي د امریکا په هاوایي ایالت کې نړۍ ته سترګې غړولې دي او همدلته لوی شوی دی. هغه د دوه رګه جاپاني – امریکایي کورنۍ له څلورم نسل څخه دی. د کورنۍ غړي یې تر ډېره ښوونکي وو. پلار یې د هاوایي ایالت د ښوونې او روزنې رییس و. رابرټ د ښوونځي له پای ته رسولو وروسته، په نیویارک کې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړه. له پوهنتون څخه تر فراغت وروسته یې د امریکا په بهري ځواک کې دنده واخیسته. نوموړی د یوه افسر او د درنو نظامي چورلکو د پیلوټ په توګه د ویتنام جګړې ته لاړ.

کله چې له ویتنام څخه را وګرځېد، نو مالي او سوداګریزو چارو ته یې مخه کړه. په ۱۹۷۷ ز کال کې یې یو شرکت تاسیس کړ. د لومړي ځل لپاره یې د نارینه‌وو لپاره د جیبي بکسو چې له نیلون او ولکرو (خپله سرېښېدونکې تسمې) څخه جوړ شوي وو، بازار ته وړاندې کړل. د شرکت دغه محصول یې ډېر ژر په ټوله نړۍ کې مینوال پیدا کړل او کارو بار یې ان میلیونونو ډالرو ته ورسېد. اعلانونه یې په مشهورو مجلو، لکه: رانرز ورلډ، جنټلمن کوارترلي، سکس مګزین، نیوزویک او پلې بوی کې خپرېدل. رابرټ کیوساکي په ۱۹۹٦ز کال کې د ۴۷ کلنۍ په عمر تقاعد واخیست. له هغه وروسته یې په بېلابېلو برخو کې پانګونې ته مخه کړه، ځکه له دې برخې سره یې ډېره مینه وه. په همدې کال کې یې د نفتو، طلا او نقرې د کشف په دریو عامو شرکتونو کې شراکت پیل کړ. له دې درکه یې ډېرې زیاتې پیسې تر لاسه کړې. په همدې کال یې (شتمن پلار، نېستمن پلار) کتاب هم ولیک. دغه کتاب د دریو کلونو لپاره د نیویارک ټایمز او وال سټریټ ژورنال دې تر ټولو ډېر پلورل شوي کتاب ځای خپل کړ. مشهور ویناوال او لیکوال انتوني رابینز د کیوساکي په اړه وایي: ((د سوداګریزو زده کړو په برخه کې د کیوساکي کار ډېر قوي او ژور دی. زه د نوموړي د هڅو پر وړاندې خپل سر ټیټوم او ټولو خلکو ته سپارښتنه کوم چې په دې ټولګیو کې برخه واخلي)). نوموړي په دې برخه کې تر اوسه پورې ډېر کتابونه لیکلي دي چې د خلکو له تاوده هرکلي سره مخ شوي دي. د پیسو ګټلو فابریکه (د رابرټ کیوساکي په سبک د پیسو ګټلو اسانه لارې چارې) د رابرټ کیوساکي د هغو غوره لیکنو ټولګه ده چې په عملي کولو سره یې تاسو کولای شی د خپل کارو بار ځښتن شی او ښې پیسې وګټی. ډېری کسان په دې اند دي چې که یې زیاتې پیسې درلودی، نو کولای یې شوای چې خپل کارو بار یې پیل کړی وای، خو په کتاب کې تاسو ته هغه لارې چارې درښیي چې څنګه کولای شی پرته له مخکینۍ پانګې کوچنی کاروبار پیل کړی او ورو ورو یې لوی کړی. لیکوال لیکي، ډېری خلک د پیسو لپاره کار کوي، خو په کتاب کې هغو لارو چارو ته هم اشاره شوې ده چې پیسې باید ستاسو لپاره کار وکړي. په کتاب کې د پیسو ګټلو لپاره ډېرې اسانه او عملي لارې چارې راوړل شوې دي، چې د ټولو شرح کول په یوه کوچنۍ لیکنه کې ناممکنه دي، نو ښه ده چې دا هر څه خپله په کتاب کې ولولئ. دغه کتاب پښتو ژبې ته حمیدالله حمیدي را ژباړلی دی، چې پر اکسوس کتابپلورنځي سربېره یې د کابل ښار په لویو کتابپلورنځیو کې هم تر لاسه کولای شی.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د مخ پرودي هېوادونو سیاست | احسان الله ځیرک | ۳۵۰؋ |
| ۲ | د ترکیبي افعالو قاموس | میرویس غورځنګ | ۲۵۰؋ |
| ۳ | فرهنگ اوزبېکی دری | رحیم ابراهیم | ٤۰۰؋ |
| ٤ | د اساسي حقوقو عمومي اصول | پوهنوال بشارت شینواری | ۲۲۰؋ |
| ٥ | MODEL BUSINESS LETTERS EMAILS ADN OTHER BUSINESS DOCUMENTS 7TH | shirley taylor | ۳۵۰؋ |
| ٦ | د لویو قتدرتونو بهرنی سیاست | دوکتور بهاره سازمند | ۲۵۰؋ |
| ۷ | شرح کود جزا | قانون پوه محمد اشرف رسولی | ٦٥۰؋ |
| ۸ | راز لکنت زبان | کامبخش فرهمند پور | ۲۰۰؋ |
| ۹ | The Flea Palace | Elif Shafak | ۳۰۰؋ |
| ۱۰ | Black Milk on motherhood and Writing | | ۱۷۰؋ |
| ۱۱ | The Forty Rules Of Love | | ۲۲۰؋ |
| ۱۲ | The Architect's apprentice | | ۲۷۰؋ |
| ۱۳ | After You | Jojo Moyes | ۳۰۰؋ |
| ۱٤ | Still Me | | ۲۷۰؋ |
| ۱٥ | Paris For one | | ۲۵۰؋ |
| ۱٦ | Me Before You | | ۲۲۰؋ |
| ۱۷ | Foreign Fruit | | ۳۰۰؋ |
| ۱۸ | The Girl You Left | | ۳۰۰؋ |
| ۱۹ | زما ژوند د هوا په سترېو څپوکې | قهرمان عبدالوهاب وردګ پیلوت | ۱۰۰؋ |
| ۲۰ | فراتر از راز (قدرت معنوی و قانون جذب) | دکتر لیزا لاو | ۱۰۰؋ |
| ۲۱ | تنها نکته ای که لازم است بندانید | گیتی شهیدی | ۲۳۰؋ |
| ۲۲ | جغرافیای اقتصادی قاره ی آسیا | پوهاند میرهارون احمدی | ۲۵۰؋ |
| ۲۳ | جغرافیای افغانستان و فرصت های ثروت سازی | محمد عظیم عظیمی | ۳۵۰؋ |
| ۲٤ | حرامسری قذافی | آنیک کوژان | ۲۵۰؋ |
| ۲٥ | مقدمه ای برنگهداری حیوانات مالداری در افغانستان | داکتر عبدالقادر سمسور | ۳۰۰؋ |
| ۲٦ | د جزا کود تحلیل(عمومي برخه له ۲۳٦-۱مادو پورې) | پوهاند احمد گل واثق دورانی | ۲۰۰؋ |
| ۲۷ | تهیه او تدارکات د تدارکاتو قانون | سراج الدین حلیمزی | ۱۳۰؋ |
| ۲۸ | A sixteen hour day | Mustafa satari | ۲۵۰؋ |
| ۲۹ | القلوب الضارعه (قلب های نیایشگر) | محمد فتح الله گولن | ۳۰۰؋ |
| ۳۰ | داستان جهاد افغانستان | کرنل امام | ۱۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۴۰ |
| € | ۸۶,۴۰ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۳۰ |
| £ | ۱۰۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - دهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - دهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# د مالي سیاست ماهیت

لیکنه: ګلاب بهار

مالي سیاست د دولت د اقتصادي سیاستونو له جملې څخه دی او لکه څرنګه مو چې مخکې هم واضح کړ، خو دلته یې په لاندې ډول د ماهیت په توګه یادونه کوو:

مالي سیاست د دولت هغه ټول تدابیر او فعالیتونه دي، چې د مالي وسایلو د راټولولو او له دې مالي وسایلو څخه د استفادې لپاره په کار وړل کېږي، څو دولت خپل وظایف او مسوولیتونه پرې سرته ورسوي.

په دغه تعریف کې مهمه نقطه دا ده، چې مالي سیاست د اقتصادي سیاستونو یوه مهمه او حیاتي برخه ده او مشخص اهداف او ټاکلی سمت لري. یا په بل عبارت، مالي سیاست د دولت د بودیجې د اجرا په واسطه د دولت د اقتصادي جریان له سوق او رهنمایۍ څخه عبارت دی، چې په تطبیق سره په ټولو دولتي ارګانونو کې چې د یو هېواد د اقتصادي سیاستونو تطبیق کوونکي دي، برخه اخلي او په دې برخه کې مالي سیستم د بودیجې د ترتیب او اجرا د میتودونو، د بودیجې تادیاتو، کمکونو او سبسایډیو په مرسته فعال رول لوبوي.

**د مالي سیاست اهداف**

د مالي وسایلو تمویل یا تهیه په خپل ذات کې هدف نه دی، بلکې د هغو مشخصو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره یوه وسیله ده، چې دولت غواړي هغوی ته ورسېږي. د مالي سیاست مهم اهداف په لاندې ډول دي:

۱- مالي هدف: په پخوانیو وختونو کې د مالي سیاست اهداف په ساده توګه لیدل کېدل او صرف د دولت د وظایفو د اجرا په موخه د مالي او پولي وسایلو تهیه او د هدف مطابق د دغو وسایلو پر کار اچولو ته مالي سیاست ویل کېده. د دولت د وظایفو د اجرا لپاره د لازمو پولي وسایلو تهیه باید په دې ډول تر سره شي، چې له یوې خوا اقتصادي پرنسیپ په کې رعایت شي او له بلې خوا د هغو خصوصي اقتصادي واحدونو د فعالیتونو د کموالي موجب نه شي، چې د دوی لپاره دغه مالي وسایل تهیه کوي. د مصارفو له نظره نوموړي وسایل باید په دې توګه پر کار واچول شي چې د دولت او عوامو لپاره تر ممکنه حده پورې یوه لوړه سلنه ګټه په




لاس راوړي. له پورتنیو خبرو څخه داسې نتیجه اخیستل کېږي، چې له پخوا څخه د مالي سیاست اساسي هدف د پولي وسایلو په داسې ډول تهیه کول دي، چې د خلکو یا افرادو ازادي محدوده او متضرره نه کړي او له بل طرفه نوموړي وسایل باید په داسې ډول پر کار واچول شي، چې د خلکو لپاره یوه اعظمي ګټه یا اسانتیا رامنځ ته کړي.

**د مالي علم نور مهم او اساسي اهداف په لاندې ډول خلاصه کېږي:**

۲- د ازادۍ هدف: د ازادۍ کلمه د فلسفې په بحث پورې اړه لري او تر اوسه پورې کوم مشخص او ځانګړی تعریف د هغې لپاره نشته، ځکه ازادي نظر سیاسي رژیمونو او همدارنګه نظر اقتصادي نظامونو ته فرق کوي. د بېلګې په ډول، د بازار په اقتصاد کې د تولید د وسایلو د ملکیت ازادي وجود لري، ولې د مرکزي پلان په اقتصاد کې د تولید د وسایلو په ملکیت کې بیا دا ډول ازادي نشته. د دغه هدف مطابق باید افراد د ژوند په ټولو ساحو کې په ازادانه ډول تصمیم ونیسي، صرف د دې ازادۍ محدودیت په هغه وخت کې مجاز ګڼل کېږي، چې افراد دې دا ډول ازادۍ په وسیله ټولنه متضرره کوي. د بېلګې په توګه، کله چې خصوصي افراد د داسې شیانو په تولیدولو لاس پورې کوي، چې د ټولنې په ضرر وي، لکه مخدره مواد، کیمیاوي مواد او داسې نور...

څرنګه چې په دا ډول تشبثاتو کې یوازې انفرادي ګټې نغښتې وي او د ټولنې په ضرر تمامېږي، همدا وجه ده چې د نړۍ په ټولو هېوادونو کې هغه کسان چې د دې ډول تشبثاتو اقدام کوي، نظر د هېوادونو د قوانینو په اساس، مجازات کېږي. نو په دې اساس باید له دې ډول تشبثاتو څخه مخنیوی وشي.

دولت باید داسې تدابیر ونیسي، چې د یو حقوقي نظام په منځ ته راوړلو سره دا ډول ازادي تضمین کړي، خو دا چې د دولت د تصامیمو نیول د دې هدف د لاسته راوړلو لپاره د یو لړ مصارفو او پولي وسایلو ایجاب کوي، نو په دې اساس باید افراد د هغې په تمویل کې هم برخه واخلي او دا په دې مانا ده چې دولت باید د یوې برخې احتیاجاتو له رفع کولو څخه چې د بازار د اقتصاد په واسطه د افرادو لپاره ممکن کېږي، صرف نظر وکړي؛ نو په دې اساس لیدل کېږي چې د دولت د مالي اقتصاد مالي هدف په غیر مستقیم ډول سره د ازادۍ د هدف په لاسته راوړلو کې له موږ سره مرسته کوي، په هره اندازه چې د دولت لپاره د دغو مالي وسایلو لاسته راوړل او د دې وسایلو پر کار اچول په اقتصادي ډول صورت ونیسي، نو په همدې اندازه د خصوصي احتیاجاتو د رفع کولو لپاره په زیاته پیمانه امکانات مساعدیږي.

۳- د رفاه هدف: د دې هدف په اساس باید دولت هڅه وکړي چې د ټولو خلکو لپاره تر ممکنه حده پورې د رفاه یوه لوړه سطحه ممکنه کړي. د رفاه هدف یوازې د انسانانو مادي ضرورتونه په بر کې نه نیسي، بلکې معنوي ارزښتونه هم په بر کې نیسي. مادي ارزښتونه په خپل ذات کې معنوي ارزښتونو ته د رسېدو لپاره اساس او زیربنا جوړوي، ځکه افراد هغه وخت کلتوري او لوړو علمي مدارجو ته رسېدلای شي، چې حداقل لازم یا ضروري مادي وسایل په واک کې ولري او د مادي او معنوي ارزښتونو ترمنځ دا ډول ارتباطات یا اړیکې یو طرفه نه دي، بلکې معنوي ارزښتونه هم په خپل وار سره مادي ارزښتونه تر تاثیر لاندې راولي.

پس اقتصادي یا تولیدي فعالیتونه باید په داسې معقول ډول صورت ونیسي، چې د هغې په واسطه تر ممکنه حده د ژوند یوې لوړې سطحې ته رسیدل ممکن شي، څنګه چې د دولت د مالي اقتصاد مالي هدف په غیر مستقیم ډول سره د رفاه هدف په لاسته راوړلو کې له موږ سره مرسته کوي، په دې اساس کله چې خصوصي اقتصاد په یوازې ځان وکولای شي چې د رفاه هدف ته ورسیږي، نو د مالي سیاست لپاره کومه وظیفه نه پاتې کېږي.

خو څرنګه چې په واقعیت کې لیدل کېږي، چې خصوصي اقتصاد په یوازې ځان نه شي کولای چې له موجوده وسایلو او امکاناتو څخه په سم ډول استفاده وکړي او د بشپړ استخدام زمینه مساعده کړي؛ نو د دې برعلاوه د مالي سیاست وظیفه دا ده چې له تولیدي وسایلو څخه د بشپړې استفادې امکانات مساعد کړي او په دې ترتیب سره د رفاه د هدف په لاسته راوړلو کې له موږ سره مرسته وکړي. په هغه صورت کې چې په یوه اقتصاد کې د تولید وسایل رکد او یو تعداد بېکاره کارګران موجود وي او دا وسایل د خصوصي اقتصاد په واسطه نه شي جذب کېدلای، دولت هر وخت چې وغواړي نو کولای شي چې د خپلو وظایفو د اجرا لپاره د کار نوموړې قوه تقاضا او پر کار یې واچوي، چې د دولت د دې تقاضا په واسطه د هېواد په داخل کې د استخدام سطحه لوړه ځي او په نتیجه کې عاید رامنځته کېږي او بالاخره په اقتصاد کې د رفاه سطحه لوړیږي.

پس د مالي سیاست وظیفه له دې څخه عبارت ده، چې د استخدام یوې داسې وسیلې ته په رسیدو کې له موږ سره مرسته وکړي، چې د رفاه یوې لوړې سطحې ته د رسیدو اساسي شرط تشکېلوي. د رفاه لوړه سطحه یوازې په دې پورې اړه نه لري چې د کار قوې او د تولید له وسایلو څخه د بشپړه استفاده وشي، بلکې په دې پورې اړه لري چې د تولید وسایل:

الف: په اقتصادي ډول پر کار واچول شي

ب: د تولید له غوره او مناسبو میتودونو څخه استفاده وشي

ج: مالي باید د نوموړو وسایلو د مؤثریت په لوړولو کې برخه واخلي


## اروپايي ټولنه: ټولې خواوې باید د ولسمشریزو ټاکنو پایلې ومني

د اروپايي ټولنې د بهرني سیاست مشرې فېدریکا موګرېنې هیله ښودلې چې د ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې ژر تر ژره اعلان شي او پر ټولو اړخونو یې غږ کړی چې دا پایلې ومني.

هغې دغه راز د دوشنبې په ورځ له ازادي راډیو سره په خبرو کې د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې د سولې مذاکراتو د پیلېدو لپاره مهم بللې.

نوموړې دا هم ویلي چې د ټاکنو د لومړنیو پایلو په جنجالي کولو سره به یوازې هغه کسان ګټه وکړي، چې د افغانستان ډیموکراسي نه غواړي او د سولې د راتلونکو مذاکراتو لپاره د یوه مشروع حکومت د جوړېدو چارې کمزورې کوي.

هغې زیاته کړې: «که چېرې د انتخاباتو نتایج ونه منل شي او په یوې طریقې تر پوښتنې لاندې راوستل شي او یو کړکېچ ترې جوړ شي، نو دا به یوازې د هغو کسانو په ګټه وي چې په افغانستان کې



د ډیموکراسۍ پر بهیر پانګونه نه کوي او د سولې په مذاکراتو کې د ګډون لپاره د یوه مشروع حکومت لیدلوری کمزوری کوي».

موګرېني ازادي راډیو ته دا هم ویلي چې ځینو نیمګړتیاوو ته په کتو چې د ولسمشرۍ ټاکنو د لومړنیو پایلو د ځنډېدو لامل شوې، دا خبره به ښایي سمه نه وي چې ګواکې افغانستان په تاریخ کې تر ټولو ښې ټاکنې درلودې، خو د هغې په خبره، ډیموکراتیکې پروسې کله نا کله پېچلې وي او وخت نیسي.

په ورته وخت کې د اروپايي ټولنې دغې لوړپوړې چارواکې ټاکنې د سولې د مذاکراتو یوه پیلامه بللې، نو ځکه یې پر ژر تر سره کېدو ټینګار کوي.

موګرېني ویلي: «موږ غواړو سیاسي کړۍ له هغو هڅو سره یوځای شي چې غواړي د سولې یوه مناسبه رسمي پروسه چې تر ټاکنو وروسته د مشروع حکومت او طالبانو ترمنځ وي، پیل شي او نړیواله ټولنه او ځینې سیمه ییز لوبغاړي یې په سمه توګه ملګري وي».

په ورته وخت کې ملګرو ملتونو او د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو د تمویلوونکو هېوادونو یوې ډلې هم وړمه ورځ پر یادو نوماندانو ټینګار وکړ، چې د ټاکنو بهیر زیانمن نه کړي.

دې ډلې چې د امریکا متحده ایالتونه، اروپايي ټولنه، ناټو او ملګري ملتونه پکې شامل دي او د ټاکنو د بهیر ملاتړي دي، په یوه اعلامیه کې ویلي چې د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو کاندیدان باید د ټاکنو قانون ته درناوی وکړي او له هر هغه اقدامه ډډه وکړي چې دا بهیر تر پوښتنې لاندې راوستلی شي.

دا غوښتنې وروسته له هغې شوې چې د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټیم د ټاکنو د خپلواک کمېسیون پر هغې پرېکړې نیوکه کړې، چې د څه باندې ۸۰۰۰ محلونو د رایو بیاشمېرنې په اړه یې کړې ده.

کمېسیون ویلي، په پوره شفافیت به رایې بیاشمېري او تر هغه وروسته به د رایو د تصفیې مرحله پیلوي چې پاکې او ناپاکې رایې سره جلا شي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** ایمل خان، نذیر احمد سهار او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۲۲مه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۱۳مه | ٤٦۲مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۱٦ | ۲۰ | ۱۵ | ۲۵ | ۲۱ |
| ٦ | ۲ | ۸ | ۳ | ۱٤ | ۱۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵۷ | لمر ختل ۰٦:۲۲ | ماسپښين ۱۱:۳۸ | مازیگر ۰۲:۳۱ | ماښام ۰٤:۵۳ | ماخوستن ۰٦:۱۹

## نړۍ



د اټومي انرژۍ د څار سازمان:

# د ایران په یوه ناعلان شوي سایټ کې یورانیم موندل شوي دي

۳

## ټرمپ: د داعش ډلې نوی مشر هم له امریکا نه شي پټېدای



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د اسلامي دولت ډلې یا داعش د نوي مشر په اړه ویلي، چې هغه ښاري او له امریکا نه شي پټېدای.

ټرمپ د دغه هېواد د پخوانیو عسکرو د ورځې د نمانځنې مراسمو ته د وینا پر مهال د اسلامي دولت ډلې د نوي مشر په اړه ویلي، چې هغه یې تر څار لاندې دی.

دا په داسې حال کې ده چې پر ټرمپ له هغې وروسته سختې نیوکې وشوې، کله چې یې له سوریې د امریکایي عسکرو د ایستلو امر وکړ. په دغو نیوکه کوونکو کې د هغه د گوند ځینې غړي هم شامل وو چې وایي، د عسکرو له ایستلو سره به د داعش جنگیالي بیا فعال شي او ترکیه به په سوریې کې د کردانو ضد عملیات وکړي.

ټرمپ یادې ناستې ته په وینا کې ویلي چې د داعش ډلې د مشر البغدادي تر وژل کېدو وروسته، د دغې ډلې غړي وېرېدلي او په تېښته دي. هغه ویلي: «یو څو اونۍ مخکې د امریکا ځانگړو ځواکو د اسلامي دولت پر یو مرکز برید وکړ او د نړۍ تر ټولو لوی ترهگر یې ختم کړ».

هغه زیاته کړې: «د البغدادي د دهشت موده پای ته ورسېده، دښمنان مو په تېښته دي او ډېر سخت وېرېدلي دي. هغه کسان چې زموږ ولس گواښي، هغوی د امریکایي ځواکونو ضد نه شي دربېدلی».

د داعش د پخواني مشر ابوبکر البغدادي له وژل کېدو یوه ورځ وروسته، د یادې ډلې ویاند ابو حسن مهاجر هم ووژل شو، خو داعش ډلې ابو ابراهیم هاشمي د نوي مشر په توگه معرفي کړ.


د بشري حقونو د څار ډله:

## په عراق کې د پولیسو او لاریونوالو په نښتو کې ۱۳۴ کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې

په عراق کې د بشري حقونو د څار یوې ډلې ویلي چې د امنیتي ځواکونو او لاریون کوونکو ترمنځ د تازه نښتو له کبله څلور لاریون کوونکي وژل شوي او شاوخوا ۱۳۰ نور ټپیان دي.

دغه مرگ ژوبله هغه مهال اوښتې چې د دغه هېواد د پوهنې اداري مخته د دواړو لورو تر منځ شخړې وشوې او امنیتي ځواکونو اوښکې بهوونکی گاز استعمال کړ.


په عراق کې د بشري حقونو نیمه رسمي کمېسیون چې د دې مرگ ژوبلې راپور یې ورکړی، دا شخړې د خواشینۍ وړ بللې او زیاته کړې یې ده چې د ځینو ټپیانو وضعیت نازک دی.



په همدې حال کې د عراق د پوځ یوه ویاند جنرال عبدالکریم خلف په بغداد کې یوې خبري غونډې ته ویلي: «د مظاهره کوونکو یوې لویې برخې، ۹۹ سلنې یې دا تاوتریخوالی نه دی کړی، دوی په بشپړه ازاده توگه خپلې نظریې وړاندې کوي، یوه وړه برخه یې غله، جنایت کوونکي او خشن خلک دي چې زموږ پر ځواکونو بریدونه کوي».

د راپورونو له مخې، له تېرې میاشتې راهیسې چې دغه اعتراضونه په یاد هېواد کې د فساد او هم د ژوند د ناسم وضعیت له کبله پیل شوي، لږ تر لږه ۳۲۰ تنه اعتراض کوونکي پکې وژل شوي دي.

## یافته های تازه: معاش و امتیازات ۴۸۳ تن به دلیل عدم ثبت دارایی های شان تعلیق شده است




یافته های آژانس خبری پژواک نشان می دهد که معاش و امتیازات ۴۸۳ تن از مقام ها و کارکنان دولتی، به دلیلی به حالت تعلیق در آمده است که دارایی های شان را ثبت نکرده اند.

در ماده ۱۵۴ قانون اساسی آمده است: «دارایی رئیس جمهور، معاونین رئیس جمهور، وزراء، اعضای ستره محکمه و لوی څارنوال قبل و بعد از دورهٔ خدمت، توسط ارگانی که در قانون تعیین می گردد، ثبت، رسیدگی و نشر می شود».

همچنان در مادهٔ پنجم قانون اشاعه و ثبت دارایی های مقامات و کارکنان دولتی آمده است: «ذوات مندرج مادهٔ ۱۵۴ قانون اساسی شامل مقامات عالی رتبه دولتی و مقامات دولتی، څارنوالان و سایر کارکنان دولتی مکلف اند، دارایی خود را که طور مستقیم تحت سلطه و تصرف آنها بوده یا نزد اشخاص دیگر می باشد و نیز دارایی پدر، مادر، همسر و فرزندان خود را همه ساله در ماه اول سال مالی اشاعه نمایند.

ادارات دولتی نمی توانند، تقرر اشخاصی را که دارایی خویش را اشاعه و ثبت نموده اند، جهت منظوری به مقام ریاست جمهوری پیشنهاد نمایند».


به اساس فهرستی که در صفحه انترنیتی اداره امور منتشر شده است، در سال روان ۱۷ هزار تن از کارکنان و مقام های دولتی واجد شرایط، دارایی های شان را ثبت نموده؛ اما ۴۸۳ تن دیگر آنها تا کنون دارایی های شان را ثبت نکرده اند.

۷٦ رئیس اداره های مختلف، هفت معین وزارت های مختلف و یک تن رئیس عمومی و متباقی اعضای شورای ملی، مشاورین و کارمندان اداره های مختلف می باشند.

در عین حال عبدالودود بشریار رئیس اداره ثبت دارایی های اداره امور گفته است که این اداره فهرست کسانی را که دارایی های شان را ثبت نکرده اند، به وزارت مالیه فرستاده است تا معاش و امتیازات آنها را به تعلیق درآورد.

## ژوند

## د ځان په اړه د خلکو منفي فکرونه مه منئ!



هغه تېروتنه چې موږ یې ډېره تکراروو، هغه پر منفي فکرونو باور کول دي. ځینې درته وایي، تاسې کافي وړتیا نه لرئ. د دې پر ځای چې ورته ووایو: نه! مننه، په ورین تندي یې خبرې منو او وایو: امم بلکل تاسې رښتیا وایئ، زه هم ډېر کله فکر کوم چې که مې ښه وړتیا درلودې، ښه پرمختگ به مې کړی وای. په همدې خبرې سره تاسې په خپل لاس له سر څخه د پادشاهۍ تاج ښکته کوئ. ته په ښه کورنۍ کې نه یې زیږېدلی، هېڅکله به لوی کار ونه شې کړای. د دې پر ځای چې دغه فکرونه نادیده ونیسئ او په اړه یې فکر ونه کړئ، تاسې یې هم ورسره منئ او په لوی لاس مو له سره د افتخار تاج را ښکته کوئ.

د دښمن اصلي وسیله فریب ورکول دي. د دښمن لپاره ستاسې له سره د تاج لرې کول تر ټولو ارزښتمن کار دی. یا دا چې تاسې اجازه ورکړئ، څو مو په خپلو فکرونو منحرف کړي او هره خبره یې په پټو سترگو ومنئ. دښمن درته وایي، تاسې ښه وړتیا نه لرئ، ډېر وخت در باندې تېر شوی دی، فکر نه کوم ژوند مو ښه شي. دا ټولې هڅې د دې لپاره کوي چې له سره مو دغه تاج را ښکته کړي، خو که ستاسې ایمان او باور پیاوړی وي، نه شي کولای پر دې کار بریالی شي.

## یوازې د زړه ټکان د زړه د ناروغۍ نښه نه ده



د نیویارک په هیل لنوکس روغتون کې د ښځو د زړه د سلامتیا د موسسې رییس او د نړیوالې تغذیې د ټولنې بنسټ اېښودونکې ډاکټر سوزان شتاینباوم وایي، د زړه ناروغۍ په ټوله کې د رگونو د تنگوالي له کبله منځ ته راځي، خو دا چې زړه له څلورو برخو جوړ شوی، نو ناروغۍ یې هم په بېل بېل ډول د هرې برخې اړوندې کېدای شي. ایا تر اوسه مو زړه لړزه او یا هم ټکان کړی؟ که یې ناڅاپه ټکان کړی وي مانا یې دا ده چې یا وېرېدلي یاستئ او یا مو هم زړه په ضربان کې له ستونزې سره مخ شوی دی. دغه څه په ډېرې اسانۍ سره حس کېدای شي. ډاکټر سوزان شتاینباوم وایي، ډېری مراجعین یې وایي، له خوب وروسته له دغه ډول پېښې سره مخ کېږي او ډېر دوام هم نه کوي. دغه پېښې د کافین د زیاتو کارولو، په بدن کې د اوبو د کمښت او یا هم سټرېس له کبله وي. خو که دغه څه له دریو دقیقو ډېر دوام وکړي او پاس ذکر شوي شیان یې هم لامل نه وي، نو ښه ده چې له ډاکټر سره مشوره وشي.